Australian Government
Department of Home Affairs

# سیمه ایز بوخت کارکوونکي (LEE) - افغانستان

## ډیر پوښتل شوي پوښتنې

**ایا زه باید د بشري ویزې د غوښتنلیک لپاره د افغان LEE پروګرام لاندې تصدیق ترلاسه کړم؟**
نه. که تاسو د افغان LEE پروګرام لاندې تصدیق شوي نه یاست، تاسو لاهم کولی شئ د بشري ویزې لپاره غوښتنلیک وړکړئ.

هر هغه څوک چې باور لري چې دوی د بشري ویزې اړتیاوې پوره کوي او غواړي د آسټرالیا مرسته وغواړي کولی شي غوښتنلیک ورکړي.

هر غوښتنلیک د اړونده هیواد د شرایطو په اړه د اوسني او جامع مالوماتو په کارولو سره او د هغوی انفرادي وړتیاوې په پام کې نیول کیږي.

که تاسو له افغانستان څخه بهر موقعیت لرئ، تاسو ممکن د لاندې لپاره د غوښتنلیک وړ یاست:
- د پناه غوښتونکي لاره
- ځانګړی بشري پروګرام
- د ټولنې ملاتړي پروګرام.

د غوښتنلیک د څرنګوالي په اړه نور مالومات د کورنیو چارو وزارت په ویب پاڼه کې شتون لري.
https://immi.homeaffairs.gov.au/visas/getting-a-visa/visa-finder/refugee-and-humanitarian

**ایا زما د ویزې غوښتنلیک ته به لومړیتوب ورکړل شي؟**
د بشردوستانه پروګرام د ننه هغه افغان اتباعو ته لومړیتوب ته ورکول کیږي چې له افغانستان څخه بهر دي او هغه دي:
- د پخواني تصدیق شوي LEE او د دوی د کورنی نږدې غړي (ښځه، د 18 کلونو څخه کم عمر ماشومان)
- د کډوالو او بشري مرستو (Class XB) ویزې لرونکیو د کورنی نږدې غړي (میړه او د 18 کلونو څخه کم عمر ماشومان)
- هغه پناه غوښتونکي چې د ملګرو ملتونو د پناه غوښتونکیو عالي کمیشنر (UNHCR) لخوا آسټرالیا ته د بیا میشتیدنې لپاره راجع شوي دي
- ښځې او نجونې، قومي اقلیتونه، +LGBTQI او نور پیژندل شوي اقلیتي ډلې

د بشري مرستو پروګرام کې د شته ځایونو په پرتله د افغان اتباعو غوښتنلیکونه ډیر دي. یوازې هغه غوښتونکي چې د آسټرالیا د حکومت لوړ لومړیتوبونه پوره کوي او د خپل هیواد څخه بهر دي، احتمال لري چې کار یې پرمخ لاړ شي.

که تاسو یو تصدیق شوی پخوانی LEE یاست، او په افغانستان کې استوګنه لري تاسو لاهم کولی شئ د ویزې غوښتنلیک تسلیم کړئ. ستاسو غوښتنلیک به د لومړیتوب د پروسې تابع وي، مګر نهایي به نه شي تر هغه چې تاسو له افغانستان څخه بهر وي.

**که ما د تصدیق کیدلو د مخه د بشري مرستو د ویزې غوښتنلیک سپارلي وي نو زه څه وکړم؟**

که تاسو د مخه د افغان LEE پروګرام لاندې د تصدیق کیدو د مخه د بشري مرستو د ویزې غوښتنلیک سپارلي وي، مهرباني وکړئ د afghanlee.amman@dfat.gov.au سره اړیکه ونیسئ ترڅو خبر ورکړئ چې تاسو اوس تصدیق شوي یاست.

مهرباني وکړئ د خپلې ویزې د غوښتنلیک او د خپل تصدیق لیک توضیحات شامل کړئ.

## د ویزې د غوښتنلیک د سپارلو پروسه څه ده؟

د پناه غوښتونکي او بشري مرستو غوښتونکي په توګه آسټرالیا ته د دایمي داخلیدلو لپاره د غوښتنلیک د جوړولو لپاره، تاسو اړتیا لرئ چې لاندې فورمې ډکې کړئ او ملاتړ کونکي اسناد چمتو کړئ:

- فورمه 842: *د بهر د بشري مرستو د ویزې لپاره غوښتنلیک* (یوازې یوه فورمه اړینه ده) https://immi.homeaffairs.gov.au/form-listing/forms/842.pdf
- فورمه 80: *د کرکټر ارزونې لپاره شخصي مشخصات* (ستاسو او پر تاسو تړلي شخص چې عمر یې 16 کاله او پورته وي ستاسو په غوښتنلیک کې شامل دي) https://immi.homeaffairs.gov.au/form-listing/forms/80.pdf
- *د کرکټر قانوني بیان* (ستاسو او پر تاسو پورې تړلي شخص چې عمر یې 16 کاله او پورته وي ستاسو په غوښتنلیک کې شامل دي) https://immi.homeaffairs.gov.au/form-listing/forms/character-statutory-declaration.pdf

## زه باید په خپل غوښتنلیک کې کوم ملاتړي اسناد شامل کړم؟

دا مهمه ده چې د ویزې بشپړ غوښتنلیک وسپارئ چې ټول اړونده فورمې (پورته وګورئ) او لاندې ملاتړ کونکي اسناد پکې شامل وي:

- ستاسو د آسټرالیایي د استخدام اداري څخه ستاسو د تصدیق لیک
- په غوښتنلیک کې د شامل شوي هر شخص دوه (2) وروستي پاسپورټ انځورونه
- په غوښتنلیک کې د شامل شوي هر شخص د هویت ثبوت (تصدیق شوي کاپي د زیږون د سندونو، د واده سندونه، پاسپورټونه، ملي هویت کارتونه او نور)، که شتون ولري
- د طلاق او مړینې سندونو تصدیق شوی کاپي (چیرته چې پدې غوښتنلیک کې شامل شوي هر کس لپاره پلي کیږي)
- د ماشوم د ساتنې سندونو تصدیق شوی کاپي (چیرته چې پدې غوښتنلیک کې د ماشوم یا ماشومانو والدین جلا شوي یا طلاق شوي وي)
- د ماشوم د پالنې سندونو تصدیق شوی کاپي (چیرته چې پدې غوښتنلیک کې یو ماشوم په فرزندي نیول شوی وي)
- د نظامي ترخیص سندونو تصدیق شوی کاپي (ستاسو او پدې غوښتنلیک کې شامل هر هغه کس لپاره چې په افغان (یا نورو) دفاعي ځواکونو کې یې خدمت کړی وي او له دندې ترخیص شوی وي
- د هر هغه شخص لپاره چې پدې غوښتنلیک کې شامل شوي وي د هر ډول ویزې / استوګنې جواز تصدیق شوي کاپي
- یو لیکلی بیان (په انګلیسي ژبه)، په واضح ډول هغه دلیلونه تشریح کوي چې ولې تاسو په افغانستان کې د ژوند کولو یا بیرته ستنیدلو څخه ویره لرئ.

د کورنیو چارو وزارت به ستاسو غوښتنلیک د اړونده ویزې د معیارونو سره په پام کې ونیسي. پدې کې ممکن د کورنیو چارو د افسر سره مرکه شامله وي او تاسو او ستاسو په غوښتنلیک کې شامل د کورنۍ غړي به اړتیا ولري چې د روغتیا، کرکټر او امنیت ارزونې بشپړې کړي.

## زه د خپل ویزې غوښتنلیک چیرته وسپارم؟

یوځل چې تاسو تصدیق شئ، د ویزې بشپړ شوي د غوښتنلیک فورمې د بریښنالیک یا پوست له لارې لیږل کیدی شي.

**د بریښنالیک له لارې د لیږلو لپاره:**
afghanlee.amman@dfat.gov.au

یادونه: د هر بریښنالیک لپاره د 10MB اندازه محدوده ده. تاسو ممکن د اړینو مالوماتو سره څو بریښنالیکونه واستوئ. مهرباني وکړئ خپل نوم د بریښنالیک په عنوان کې شامل کړئ.

**د پوسټ له لارې د لېږلو لپاره:**
Australian Embassy
Department of Home Affairs
P.O. Box 35201
Amman 11180
Jordan

**کریير له لارې د لېږلو لپاره:**
Australian Embassy
Department of Home Affairs
41 Kayed Al Armouti Street
South Abdoun
Amman
Jordan

**ایا زما د غوښتنلیک د سپارلو لپاره کوم لګښت راځي؟**
د غوښتنلیک فورمو یا د غوښتنلیک د تسلیمولو لپاره هیڅ فیس یا چارج شتون نلري.

**ایا زما سره به مرکه وشئ؟**
د پروسې په موده کې ممکن مرکې ته اړتیا وي. یو افسر به ستاسو غوښتنلیک د بشپړتیا لپاره د سپارلو وروسته وګوري. تاسو ته به خبر درکړل شي که چیرې نورو مالوماتو ته اړتیا وي او که چیرې د کورنیو چارو افسر اړتیا ولري چې ستاسو د غوښتنلیک په اړه ستاسو سره خبرې وکړي.

دا مهمه ده چې تاسو د کورنیو چارو وزارت ته ستاسو د اړیکو په مشخصاتو کې د هر ډول بدلون په اړه خبر ورکړئ، پشمول د ستاسو پته، د تلیفون شمیره او د بریښنالیک پته. که ستاسو د اړیکو مشخصات بدل شي، نو تاسو هڅول کیږئ چې د 929 فورمې په ډکولو او په دې بریښنالیک ته یې 929@homeaffairs.gov.au د بریښنالیک له لارې د وزارت ته د خبرولو لپاره واستوئ.

**ایا زما ټوله کورنۍ به وکولی شي چې زما سره آسټرالیا ته لاړ شي؟**
تاسو کولی شئ د خپلې ویزې په غوښتنلیک کې د کورنۍ لاندې غړي شامل کړئ:

- ستاسو میړه/ښځه (یوازې یو)
- ستاسو هغه ماشومان چې واده شوي یا کوژده شوي ندي او په تاسو یا ستاسو میړه/ښځه پورې تړلي دي
- هغه خپلوان چې واده شوي یا کوژده شوي ندي، معمولا ستاسو په کورنۍ کې ژوند کوي او په تاسو یا ستاسو میړه/ښځه پورې تړلي دي او په کوم بل بالغ شخص پورې تړلي ندي.

ستاسو په کورنۍ کې د کورنۍ نور **غړي شامل نه دي** (په شمول د وروڼو، خویندو یا والدینو). د کورنۍ د غړو په اړه نور مالومات چې تاسو یې شاملولی شئ د ویزې د غوښتنلیک په فورمه کې بیان شوي دي. دا فورمه هغه مالومات او اسناد هم بیانوي چې تاسو به ورته اړتیا ولرئ ترڅو تاسو او د کورنۍ نورو غړیو ته یې چمتو کړئ.

**ایا زما د ویزې غوښتنلیک به پروسس شي که زه په افغانستان کې یم؟**
یوازې د بشري ویزې غوښتنلیکونه د تصدیق شوي افغان LEE او د کډوالو او بشري ویزې لرونکو نږدې کورنۍ غړو (مېړه/ښځه او ماشومان) لپاره چې له افغانستان څخه بهر ژوند کوي، هغه به نهایی شي.

په افغانستان کې د میشتو خلکو لپاره غوښتنلیکونه سپارل کیدی شي او وزارت به غوښتنلیکونه تر هغه وخته پورې وساتي چې غوښتونکي له افغانستان څخه بهر وي.

د آسټرالیا حکومت په افغانستان کې پاتې ټولو خلکو څخه غوښتنه کوي چې خپل خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړي. هغه خلک چې په افغانستان کې پاتې دي باید په احتیاط سره خطرونه په پام کې ونیسي که چیرې دوی هڅه وکړي چې له کومې لارې ووځي.

که تاسو د ویزې غوښتنلیک وسپارئ او بیا له افغانستان څخه بهر سفر وکړئ نو تاسو باید د عمان د پروسې ټیم سره اړیکه ونیسئ ترڅو د خپلې نوی پتې خبر په دې پته afghanlee.amman@dfat.gov.au ورکړئ.

**ایا زه لاهم د پناه غوښتونکي او بشري ویزې لپاره وړ یم که چیرې زه بل ځای کښې میشت شوی یم؟**
تاسو به د آسټرالیا د دایمي یا لنډ مهاله بشري ویزې لپاره وړ نه یاست که تاسو د جینوا کنوانسیون لاسلیک کونکي هیواد کې ژوند کوئ چې تاسو ته یې میشتیدنه چمتو کړې وی.

**ایا زه کولی شم د ویزې لپاره غوښتنلیک ورکړم که چیرې ما د مخه یوه د subclass 449 بشري پاتې کیدلو (موقتي) ویزه درلوده او آسټرالیا ته مې سفر نه دی کړئ؟**
هو، که تاسو یو تصدیق شوی افغان LEE یاست او د مخه د subclass 449 بشري پاتې کیدلو (موقتي) ویزه درلوده تاسو کولی شئ د آسټرالیا د بشري پروګرام لاندې د ویزې لپاره غوښتنلیک ورکړئ. د LEE لخوا ثبت شوي د بشري ویزې غوښتنلیکونه لومړیتوب لري.

**ولې حکومت د LEE کورنی ته لومړیتوب نه ورکوي خو موږ ته خبر ورکړل شوی و چې په 2021 کې به کورنی ته لومړیتوب ورکړل شي؟**
د افغان LEE نږدې کورنی (میره/ښځه، د 18 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان) ته لومړیتوب ورکول کیږي. د پخواني حکومت لخوا خپاره شوي لومړیتوبونه، په شمول د LEE کورنۍ چې د لومړیتوب پروسې یې ترلاسه کړي، په 2021 کې د کابل د سقوط په شرایطو کې رامینځته شوي چیرې چې د ویزو کمو دوسیو شتون درلود. اوس وضعیت خورا توپیر لري، د افغانانو لوی شمیر د ویزې پایلې ته په تمه دي، چې ډیر یې په آسټرالیا کې نږدې کورنۍ لري. د LEE لپاره د کورنۍ غړیو ته لومړیتوب ورکول به د نورو افغان کورنیو د نږدې کورنۍ غړیو سره د یوځای کیدلو ځای ونیسي.

**ایا زما پراخه کورنۍ او ملګري د ویزې لپاره غوښتنلیک ورکولي شي؟**
ستاسو د پراخي کورنۍ د غړیو او ملګرو لپاره د ویزې ډیری لارې شتون لري.
هغه اشخاص او کورنۍ چې له افغانستان څخه بهر د بشري مرستو په لټه کې دي کولی شي د لاندې لارو له لارې غوښتنلیک ورکړي:

- د پناه غوښتنې لاره - لومړیتوب هغو غوښتونکو ته ورکول کیږي چې د UNHCR لخوا د بیا میشتیدنې لپاره راجع کیږي. احتمالي غوښتونکي ممکن وغواړي چې د UNHCR مرسته وغواړي.
- د ځانګړي بشري پروګرام لاره - غوښتونکی باید د آسټرالیا تبعه یا دایمي استوګن وړاندیز کونکی (سپانسر) ولري. لومړیتوب د کورنۍ نږدې او نږدې وړاندیز کونکیو ته ورکول کیږي.
- د ټولنې ملاتړ پروګرام ((Community Support Program (CSP)) لاره - غوښتونکی باید د کارموندنې مهارتونه یا د کارموندنې وړاندیز وښیي، کافي انګلیسي ولري او د CSP لاندې د غور کولو لپاره د 18 او 50 کلونو ترمنځ عمر ولري.

ستاسو خپلوان او ملګري ممکن د دوی د انفرادي شرایطو پورې اړوند د ویزې نورو لارو ته هم لاسرسی ومومي، پشمول د کسب، کورنۍ، زده کونکي او د لیدونکي ویزې پروګرامونه.

د کورنیو چارو وزارت افغان اتباع هڅوي چې د وزارت په ویب پاڼه کې د دوی لپاره د ویزې هغه انتخابونه چې مناسب دي وپلټي.
https://immi.homeaffairs.gov.au/visas/getting-a-visa/visa-finder

**زه به په آسټرالیا کې چیرته ژوند وکړم؟**
بریالي غوښتونکي او د دوی د کورنۍ غړي به د آسټرالیا په یو شمیر بیلابیلو ځایونو کې میشت شي. دا ممکنه ده چې تاسو به د ښارونو لکه میلبورن یا سیډني پرځای په سیمه ایزو ځایونو کې میشت شئ.

**که زه په آسټرالیا کې کورنۍ ولرم نو څه به وشي؟**
دا ډیره مهمه ده چې تاسو د کورنۍ د هغو غړیو مشخصات چمتو کړئ چې د مخه په آسټرالیا کې ژوند کوي. چیرې چې امکان ولري، د کورنیو چارو وزارت به دا مالومات ستاسو د کورنۍ سره د نږدې اوسیدلو لپاره وکاروي. په آسټرالیا کې د کورنۍ د غړیو په اړه مالومات ستاسو د ویزې د غوښتنلیک په فورمه کې شامل کیدی شي (په 18 او 19 پوښتنه کې).

**ایا زه به په آسټرالیا کې د نورو افغانانو سره ژوند وکړم؟**
که تاسو ته په آسټرالیا کې د داخلیدو او پاتې کیدلو لپاره دایمي ویزه درکړل شي، تاسو به یو لړ خدماتو ته لاسرسی ولرئ چې تاسو او ستاسو نږدې کورنۍ ته به د آسټرالیا د حکومت لخوا د بشري میشته کیدو پروګرام (Humanitarian Settlement Program (HSP)) له لارې چمتو شي. د دې خدماتو د یوې برخې په توګه، احتمال لري چې تاسو به د ځایي ټولنې غړو سره اړیکه ونیسئ، چې ممکن افغان پناه غوښتونکي هم پکې شامل وي.

**څه وکړم که زه ملګري یا کورنۍ ولرم چې د آسټرالیا د ویزې لپاره هم غوښتنلیک ورکوي؟**
دا مهمه ده چې تاسو موږ ته په خپل غوښتنلیک کې د هغو ملګرو یا کورنۍ غړو په اړه وواياست چې په جلا توګه د ویزې لپاره غوښتنلیک ورکوي. که تاسو ته ویزه منظور شي، دا مالومات به ستاسو د میشته کیدلو ځای په پریکړه کې په پام کې ونیول شي.

**زما د ویزې د غوښتنلیک پروسه به څومره وخت ونیسي؟**
دا ستونزمنه ده چې په سمه توګه ووایو چې ستاسو د ویزې غوښتنلیک پروسه به څومره وخت ونیسي. د روغتیا، کرکټر او د ملي امنیت اجراات یو څه وخت نیولی شي. د پروسې وختونه هم د شخص او کورنۍ د شرایطو سره توپیر لري.

کله چې تاسو د ویزې غوښتنلیک وسپارئ، د کورنیو چارو وزارت به ستاسو غوښتنلیک ژر تر ژره پروسس کړي. دا ډیره مهمه ده چې تاسو وزارت ته ټول اړونده مالومات چمتو کړئ ترڅو ټولې ارزونې ژر تر ژره بشپړې شي. که تاسو ټول غوښتل شوي مالومات چمتو نه کړئ نو د پروسه ځنډ ممکن رامینځته شي.

**که زما شرایط د غوښتنلیک د سپارلو وروسته بدل شي نو څه به وشي؟**
که ستاسو شرایط د ویزې غوښتنلیک د سپارلو وروسته په هر ډول بدل شي، تاسو باید د کورنیو چارو وزارت ته خبر ورکړئ. د هغو شرایطو د بدلونونو د ډولونو مثالونو لپاره چې تاسو ورته اړتیا لرئ راپور ورکړئ، مهرباني وکړئ هغه مالومات وګورئ چې ستاسو د غوښتنلیک سره چمتو شوي. که ستاسو شرایط بدل شي، تاسو باید د 1022 فورمې په ډکولو سره د "په شرایطو کې د بدلونونو خبرتیا" فورمه ډکه کړئ چې دلته شتون لري: <u>په شرایطو کې د بدلونونو د خبرتیا فورمه</u> او هغه دفتر ته یې بریښنالیک واستوئ چې ستاسو د ویزې غوښتنلیک پروسس کوي. **ستاسو په شرایطو کې د بدلونونو په اړه وزارت ته په خبر ورکولو کې پاتې راتلل ستاسو د اوسني او/یا وروسته ویزې غوښتنلیک په اړه د منفي پریکړې لامل کیدی شي.**

**که زما غوښتنلیک رد شي نو څه کیږي؟**
ستاسو د ویزې د غوښتنلیک د ردولو پریکړې د بیاکتنې یا بیا غور کولو لپاره هیڅ شرایط شتون نلري. تاسو کولی شئ د نورو ویزو لپاره غوښتنه وکړئ په دې شرط چې تاسو د دې ویزې لپاره ځانګړي اړتیاوې پوره کړئ. آسټرالیا ته د مهاجرت په اړه د نورو مالوماتو لپاره https://immi.homeaffairs.gov.au/ ته مراجعه وکړئ.

**ولې باید زه د روغتیا ارزونه وکړم؟**
د ویزې ډیر غوښتونکي باید د ویزې ورکولو د مخه روغتیايي معیارونه پوره کړي.

د آسټرالیا د روغتیا اړتیا:
- د آسټرالیا ټولنه د عامې روغتیا او خوندیتوب خطرونو څخه ساتي؛
- د روغتیا او هوسایني خدماتو لګښتونو کنټرول کې مرسته کوي؛
- او ډاډ ترلاسه کوي چې د آسټرالیا اتباع او دایمي اوسیدونکي کولی شي روغتیا او ټولنیز خدماتو ته لاسرسی ومومي کوم چې محدود دي

تاسو ممکن د روغتیا معایناتو ته اړتیا ولرئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو آسټرالیا ته د سفر کولو د مخه د روغتیا اړتیاوې پوره کړئ. که دا ممکنه نه وي، ستاسو د روغتیا معاینات به آسټرالیا ته ستاسو په رسیدلو سره سم تنظیم شي. د کامنویلت یو طبي افسر (Medical Officer of the Commonwealth (MOC)) به ستاسو د معایناتو پایلې وارزوي.

**ایا زه باید د روغتیا د ارزونې لپاره پیسې ورکړم؟**
طبي ارزونه، د سینې ایکسرې او درملنه (که اړتیا وي) ستاسو او ستاسو د کورنۍ د تایید شویو غړو لپاره وړیا دي. د دی لګښت د آسټرالیا د حکومت لخوا ورکول کیږي.

**که زما په غوښتنلیک کې کوم شامل شوی شخص طبي حالت ولري نو څه پیشیږي؟**
که چیرې یو شخص جدي یا ساري ناروغي ولري (د مثال په توګه نري رنځ (توبرکلوز))، نو هغه شخص به یوازې وروسته له هغه چې درملنه ترلاسه کړي او د طبي مسلکي لخوا د سفر کولو لپاره مناسب اعلان شي آسټرالیا ته سفر وکړي. که دا قضیه وي، نو تاسو ته به نور مالومات درکړل شي ترڅو ستاسو سره آسټرالیا ته د سفر په پلان کې مرسته وکړي.

د روغتیايي معایناتو پرمهال د طبي شرایطو افشا کول کارکوونکیو سره په آسټرالیا کې د اشخاصو او کورنیو لپاره د خوندي استوګنې په پلان کولو کې مرسته کوي. که تاسو روغتیايي څارنې ته اړتیا ولري یا تاسو د سفر پرمهال مهم طبي درملنې ته اړتیا لرئ، نو ممکن طبي ساتونکي تنظیم شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې تاسو آسټرالیا ته په خوندي ډول ورسیږئ.

**ایا د آسټرالیا حکومت به زما د آسټرالیا د سفر لپاره پیسې ورکړي؟**
د آسټرالیا حکومت ستاسو د بیا میشتیدنې سره ترلې ټول، پشمول د هوایی سفر او ټول طبي معایناتو لګښتونه ورکوي.

**آسټرالیا ته له رسیدو وروسته به زه څه مرسته ترلاسه کړم؟**
که تاسو ته آسټرالیا ته د داخلیدلو لپاره دایمي د پناه غوښتونکي ویزه درکړل شي، نو تاسو به د آسټرالیا حکومت لخوا د بشري میشتیدنې پروګرام ((Humanitarian Settlement Program (HSP)) له لارې چمتو شوي یو لړ خدماتو ته لاسرسی ولرئ چې تاسو او ستاسو کورنۍ سره به په آسټرالیا کې په میشته کیدلو کې مرسته وکړي.

ستاسو د انفرادي اړتیاوو پر بنسټ، تاسو ممکن د HSP څخه تر 18 میاشتو پورې ملاتړ ترلاسه کړئ، په دې موده کې به ستاسو سره دا مرسته وشي:

- اوږد مهاله استوګنځای ومومئ، او د خپل نوي کور د جوړولو لپاره د کورني توکو یوه بسته چمتو کړئ؛
- معمول او متخصص ملاتړ خدماتو ته لاسرسی ومومئ، د بیلګې په توګه د کورنۍ او کورني تاوتریخوالي خدماتو ته لاسرسی؛
- د لویو مهاجرو د انګلیسي پروګرام ((Adult Migrant English Program (AMEP)) له لارې انګلیسي زده کړئ؛
- د کارموندني خدماتو، تعلیم او روزنې ته لاسرسی؛
- د ماشومانو لپاره د ښوونځي بشپړ نوم لیکنه؛
- د ځایی ټولنې ډلو او فعالیتونو سره وصل شئ؛ او
- زموږ د ارزښتونو او قوانینو په ګډون آسټرالیا سره اشنا شئ.

دا ټول خدمات د خدماتو چمتو کونکیو لخوا وړاندې کیږي چې د کورنیو چارو وزارت سره قرارداد شوي دي. رضاکاري ډلې د خدماتو چمتو کونکیو سره هم کار کوي ترڅو د راتلونکیو کسانو ملاتړ وکړي او دوی سره په محلي ټولنه کې په میشته کیدلو کې مرسته وکړي.

**که زه آسټرالیا ته راشم نو ایا ما ته به د آسټرالیا حکومت کې دنده تضمین شي؟**
نه. که تاسو آسټرالیا ته راشئ نو تاسو ته د آسټرالیا حکومت سره د دندې تضمین نه کیږي. په هرصورت، تاسو به د عاید ملاتړ ګټو ته سمدستي لاسرسی ولرئ او د دندې شبکې خدماتو چمتو کونکیو په مرسته یا ستاسو د خپلو اړیکو له لارې به د کار په لټه کې شئ.

**ایا زه به وکولی شم په آسټرالیا کې کار ومومم؟**
ممکن ستاسو د رسیدلو وروسته په آسټرالیا کې ستاسو د لومړۍ دنده ترلاسه کول ستونزمن وي. په آسټرالیا کې تاسو څومره ژر دنده موندلی شئ دا په اقتصادي عواملو، ستاسو وړتیاو او مهارتونو، ستاسو د انګلیسي ژبې مهارتونو، او د هغه کار په ډول پورې اړه لري چې تاسو یې په لټه کې یاست. تاسو ممکن د ځانګړو ننګونو سره مخ شئ او باید له خپل عادي مسلک څخه بهر کار وکړئ. ستاسو د میشتیدنې د کیس مدیر به وکولی شي تاسو ته نور مالومات درکړي.

**ایا زما مهارتونه او وړتیاوې به په آسټرالیا کې وپیژندل شي؟**
د کورنیو چارو وزارت ویب پاڼه تاسو ته ستاسو د مسلکي وړتیاوو، مهارتونو یا تجربې ارزونې د ترلاسه کولو په اړه مالومات چمتو کوي.
https://immi.homeaffairs.gov.au/visas/working-in-australia/skills-assessment

**ایا زه به وکولی شم چې په آسټرالیا کې ترجمان شم؟**
حتی که تاسو په افغانستان کې د ترجمان په توګه کار کړی وي دا تضمین نشته چې تاسو به وکولی شئ په آسټرالیا کې د ترجمان په توګه کار وکړئ. تاسو به اړتیا ولرئ چې ستاسې وړتیاوې، مهارتونه یا تجربه وارزول شي. په آسټرالیا کې د ترجمان په توګه د کار کولو لپاره معمولا رسمي اعتبار ته اړتیا وي.

**زما د ژوند شرایط به په آسټرالیا کې څرنګه وي؟**
د بیا میشتیدنې لپاره دا یوه لویه پریکړه ده او دا مهمه ده چې په آسټرالیا کې د خپل نوي ژوند د پلان کولو پرمهال او د څه تمه کولو په اړه واقعبین اوسئ. په پیل کې ممکن ستاسو تجربه مایوسه کوونکې او د هغه څه څخه سخته ومومئ چې تاسو یې تمه درلوده. هغه مالومات چې خلکو تاسو ته ویلې دي یا هغه څه چې تاسو ممکن په کتابونو او مجلو کې لیدلي وي ممکن د ډیرو آسټرالیایانو لپاره د ژوند په حقیقت کې یو دقیق انځور نه وي. د مثال په توګه، کور، توکي او خدمات خورا ګران دي. تاسو ممکن په آسټرالیا کې د خپل لومړي کلونو په موده کې په یوه کوچني کور یا اپارتمنت کې ژوند کولو ته اړتیا ولرئ.
حقیقت دا دی چې آسټرالیایان عموما سخت کار کوي او ډیر یې اړتیا لري چې د کور، موټر اخیستلو یا رخصتۍ کولو لپاره پیسې پور واخلي.

**زه به کله د آسټراليا تابعيت ولرم؟**
که تاسو ته ويزه درکړل شي نو تاسو په اتوماتيک ډول د آسټراليا د تابعيت مستحق نه ياست. د آسټراليا تابعيت په اړه نور مالومات په https://immi.homeaffairs.gov.au/citizenship/become-a-citizen کې شتون لري.

**ايا ما او زما کورنۍ ته به د انګليسي زده کړې لپاره مرسته چمتو شي؟**
د لويو مهاجرو د انګليسي پروګرام (AMEP) يو وړيا خدمت دی چې د وړ مهاجرينو او بشري مرستو غوښتونکيو سره مرسته کوي چې د انګليسي ژبې ټيټه کچې لري ترڅو خپل انګليسي ژبه ښه کړي او آسټراليا کې ميشت شي.
تاسو کولی شئ د انګليسي ژبې غير محدود ټولګيو ته لاسرسی ومومئ تر هغه چې ستاسو انګليسي مسلکي ته ورسيږئ.
کله چې تاسو د AMEP ټولګي کې ياست، ستاسو د هغو ماشومانو لپاره وړيا د ماشوم پالنه شتون لري چې د ښوونځي د عمر څخه کم وي.

**ايا زه د AMEP لپاره وړ يم؟**
AMEP د وړ مهاجرينو او بشري مرستو غوښتونکيو لپاره شتون لري چې دايمي ويزه يا وړ لنډ مهاله ويزه ولري. اصلي ويزه لرونکی او د دوی پورې تړلی ممکن د AMEP لپاره وړ وي.

د AMEP وړ لنډ مهاله ويزو لست لپاره او د AMEP په اړه د نورو مالوماتو لپاره دلته لاړ شئ:
https://immi.homeaffairs.gov.au/settling-in-australia/amep/about-the-program

**ايا په نورو ژبو کې د AMEP معلومات شتون لري؟**
د AMEP په اړه مالومات په ډيرو ژبو ژباړل شوي ترڅو تاسو سره د پروګرام په ښه پوهيدلو کې مرسته وکړي، دلته لاړ شئ:
https://immi.homeaffairs.gov.au/settling-in-australia/amep/information-in-languages

**زه کله د AMEP لپاره نوم ليکنه کولی شم؟**
که تاسو وړ ويزه لرئ او د 1 اکتوبر 2020 وروسته آسټراليا ته راشئ، 18 کاله يا ډير عمر لرئ، نو تاسو بايد د شپږو مياشتو د ننه نوم ليکنه وکړئ (په ياد ولرئ چې تاسو کولی شئ د تمديد لپاره غوښتنه وکړئ).

**ايا زه بايد د انګليسي زده کړې لپاره پيسي ورکړم؟**
AMEP د وړ مراجعينو لپاره وړيا دی.

**AMEP آنلاين څه شی دی؟**

AMEP آنلاين د AMEP ملاتړ رسولو او بشپړولو لپاره د عوام لپاره د eLearning يوه وړيا، اسانه لاسرسی لرونکي سرچينه ده. AMEP آنلاين په آسټراليا کې د ژوند او د ميشته کيدلو په اړه موضوعات لري. د معاصر انګليسي ژبې پنځه کچې شتون لري، چې په آسټراليا او بهر کې، او د موبايل تليفون، ديسک ټاپ يا ټابليټ له لارې د لاسرسي وړ دي.

د https://ameponline.homeaffairs.gov.au/ له لارې د AMEP آنلاين ته لاسرسی ومومئ

**ايا زما ماشومان به وکولی شي ښوونځي ته لاړ شي؟**
هو. په آسټراليا کې د زده کړې سيسټم د ټولو خلکو لپاره خلاص دی. دا د ټولو عمر ګروپونو او د وړتيا په کچه فرصت وړاندې کوي. که تاسو د داخليدلو اړتياوې ولرئ نو تاسو کولی شئ د زده کړې په هره کچه کې زده کړه وکړئ. د ټولو هغو خلکو لپاره مرسته شتون لري چې آسټراليا ته نوي راغلي دي.
ښوونځی د پنځو او 15 کلونو ترمنځ عمر لرونکيو ټولو ماشومانو لپاره لازمي دی. دا عمرونه ممکن په ځينو ايالتونو کې يو څه توپير ولري. حکومت عامه ښوونځي چمتو کوي. د عقيدې پر بنسټ سازمانونه او نورې ډلې خصوصي ښوونځي چمتو کوي. عامه ښوونځي وړيا دي او د خصوصي ښوونځي کاروونکي فيس ورکوي.

نوي راغلي زده کونکي چې عمرونه يې د 18 کلونو او کم عمر لرونکي دي او د انګليسي ژبې نه پوهيدونکي شاليد لرونکي دي د انګليسي ژبې مهارتونو ته د انګليسي ژبې د دوهمې ژبې په توګه د نوي راتګ پروګرام له لارې وده ورکولو کې مرسته کيږي چې عموما په محلي ښوونځي کې ترسره کيږي. ستاسو په کورس پورې اړه لري د پوهنتون ځينې کورسونه د لوړو زده کړو پور پروګرام سکيم لخوا پوښل شوي دي. دا پدې مانا ده چې زده کوونکی بايد د پوهنتون د زده کړو لپاره پيسي ورکړي، مګر دا پيسي تر هغه وخته پورې ځنډول کيدی شي چې زده کوونکی له فراغت وروسته يو ټاکلی عايد ترلاسه کړي.